# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Literary - Cultural | ادبی - فرهنگی |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعی


۱۴ فبروری ۲۰۱۲

## د ښاغلي یوسفزي پاړسي - پښتو قاموس ته یوه ځغلنده کتنه

**څو ورځې مخکې یوه ویښ او زیارکښ افغان - ښاغلي انجینیر تیمورشاه یوسفزي له هراته د یو بل ایمیل یا بریښنا لیک په ترڅ کې د خپل « فارسي- پښتو قاموس » د نقداو شنني غوښتنه وکړه . په دې چې نقد او شننه زما تر صلاحیت لوړ کار ؤ، په جواب کې مې تر عُذر غوښتولو وروسته، یوازې « د نوي قاموس لیکنې میتودلوژی ته یوه کتنه » ور واستوله . دوی - درې ورځې وروسته یې بل ایمیل را ولیږئ؛ او په ټینګار سره یې بیا خپله پخوانی غوښتنه تکرار کړې وه . د ښاغلي یوسفزي ناز مې پر مځکه نسوای غورځولای، ځکه مې نو دغه لنډه لیکنه د ناچارۍ له مخې له ده او نورو ځوانو قاموس لیکوونکو سره د خپلو ماتو ګوډو نظریو او مشورو د شریکولو په هیله وکړه . خدای دې وکړي، چې په لوستلو و ارزي .**

د نړۍ ژبې د سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي دلایلو له مخې یوله بله نیژدې اوتینګې اړیکې لري . پښتو ژبه هم د همدغو ځانګړتیاوو او دلایلو پر اساس له پاړسي، عربي او ځینو هندي الاصله ژبو، په تېره بیا اوردوسره ژور او مزبوت تاریخي روابط لري . دې ژورو او ځو اړخیزو اړیکو د نورو فرهنګي راکړو ورکړو په لړ کې د ژبنیو قاموسو او لغتنامو د لیکلو او تألیف اړتیا هم منځ ته راوړه . پښتنو ژبپوهانو، ادیبانو او شاعرانو د همدې ادبی او فرهنګي اړتیا د پوره کولو دپاره له ډېرو اوږدو کلو راهیسې د پښتو، پاړسي، عربي، اوردو او انګرېزي ژبې د دوو ژبیزو یا څو ژبیزو قاموسو او درسي کتابو و تألیف او ترجمې ته ملاوي وتړلې او تر اوسه پورې په ډېره مینه او ولوله دا علمي - فرهنګي بهیر پر مخ بیایي . له نیکه مرغه په پښتو ژبه د دغه راز فرهنګو ، لغتنامو او نورو ژبنیو اثارو شمېر تر انده پاس دئ، چې حتا د ټولو د نومو یادونه هم د یوې مقالې تر حوصلې وتلې خبره ده . په دې خاطر نو دلته یوازې د هغو مالومو پښتو- پاړسي او پاړسي - پښتو قاموسو لنډه یادونه کوو، چې د پښتو قاموس لیکنې په پرمختیایي او بشپړتیایي بهیر کې( کې یې) لو( لویه) او ارزښتناکه برخه اخیستې ده .

د تر لاسه سوو مالوماتو له مخي « رياض المحبت » د پښتو- پاړسي هغه لومړنی فرهنگ دئ، چي د هندوستان په روهيلکنډ کي د پښتنود نوميالي واکمن - حافظ رحمت خان بړيڅ ( ۱۱۲۰هـ ق/ ۱۷۰۸ع – ۱۱۸۸هـ ق/ ۱۷۷۴ع) د زوی - نواب محبت خان بړيڅ ( ۱۱۶۴هـ ق/ ۱۷۵۰ع – ۱۲۲۳هـ ق/ ۱۸۰۹ع) تأليف دئ؛ او (۱۲۲۱هـ ق/ ۱۸۰۶ع) کال کي بشپړ سوئ دئ . نواب محبت خان بړيڅ په پاړسي، عربي او سنسکريت ژبو کي د خپل وخت لوی استاد ؤ. په پښتو، پاړسي او اوردو ژبو شعري ديوانونه لري . « اسرار محبت » او « آمدنامه » هم دهغه له اثارو څخه دي( وگورئ : حبيبي ۱۱۶ – ۱۱۷) .

له پاړسي، عربي او هندي ټکو سره د پښتو دوهم گډ قاموس « عجايب اللغات » نومېږي، چي په ( ۱۲۲۴هـ ق/ ۱۸۰۸ع) کال د حافظ رحمت خان بړيڅ د بل زوی - نواب الله يار خان بړيڅ (۱۷۵۱ – ۱۸۳۲ع) له خوا ليکل سوئ دئ . د پښتو- پاړسي د دې قاموسو قلمي نسخي د برټيش کتابتون د اسيايي او افريقايي څېړنو په مرکز او د هندوستان په بېلابېلو اختصاصي کتابخانو کي خوندي دي .

دا چي د پښتو لومړني فرهنگونه د روهلکنډ د بړيڅ نوابانو له خوا ليکل سوي دي، بې ځايه نه ده، چي د هغو د زړور او منور پلار د ژوند او علمي کارنامو په باب هم څو لنډ ټکي بيان کو.

د نواب محبت خان او نواب الله يار خان پلار - حافظ الملک حافظ رحمت خان بړيڅ د شاه عالم خان زوی دئ، چي لوی نيکه ( شهاب الدين) يې د کندهار له ښوراوکه تللئ؛ او په اټک او لنگرکوټ کي مېشت سوئ ؤ . د توري او قلم دا نوميالی واکمن د احمد شاه بابا له ډېرو وفادارو او تېرونو ملگرو څخه ؤ. حافظ رحمت خان پر مراني او زړورتياسربېره عالِم، فاضل او مُدبر شخصيت هم ؤ. په پښتو ژبه کي د يوان څښتن دئ . « خلاصة الانساب » او « تواريخ رحمت خاني » يې نور اثار دي ( د بشپړ مالومات دپاره وگورئ : حبيبي ۱۱۱- ۱۱۲) .

تر « رياض المحبت » او « عجايب اللغات » ښايسته اوږده کلونه وروسته په ( ۱۳۱۶ش) کال داروابناد وزير محـمد گل خان (۱۲۶۳- ۱۳۴۳ش) پښتو- پاړسي قاموس، په کابل کي خپور سو، چي «پښتو سيند» نومېږي . ورپسي ارواښاد لعل محمد کاکړ او لوی استاد - علامه حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ع) په ( ۱۳۱۸ش) کال کي له خورا پراخي او مغتنمي سريزي سره، په کندهار کي « د سپېڅلي پښتو» په نامه خپل پاړسي - پښتو قاموس خپور کئ .

پښتو ټولني په ( ۱۳۳۰ش) کي د پښتو- پاړسي بل قاموس په دوو ټوکو کي را وايستئ، چي د مخکنييو قاموس له تجربو څخه يې پراخه گټه اخيستي وه. تر هغه وروسته په ( ۱۳۳۵ – ۱۳۳۶ش) کلوکي ارواښاد عبدالله افغاني نويس ( په۱۲۷۶ش/ ۱۸۹۷ ع کي زېږېدلـــئ)په درو ټوکو کي خپل « افغان قاموس » چاپ کئ، چي ډېره برخه عربي او څه برخه پاړسي ټکي پکښي را ټول سوي دي؛ اوپه دوو جلا ستونو کي د داوړو ژبو( پاړسي او پښتو) ماناوي اوډل سوي دي .« لغات عاميانۀ فارسی افغانستان » داروابناد افغاني نويس بل قاموس دئ، چي د پاړسي ژبي و عاميانه ټکوته ځانگړی سوئ دئ . تر « افغان قاموس » وروسته په ( ۱۳۳۹ش) کال د پښتو ټولني له خوا داروابناد عبدالله شاه بدخشي( ۱۲۹۰- ۱۳۲۴ش) لهجه يي قاموس چاپ سو، چي « د افغانستان د ځينو ژبو او لهجو قاموس » نومېږي؛ اوپه اول ټوک کي د اشکاشمي، شغني، سنگليچي، واخي، مُنجي، پاړسي او پښتو ژبو ټکي را غونډ سوي دي؛ خو د دوهم ټوک څرک يې لا تر اوسه چيري نه دئ ليدل سوئ . دغو او ډېرو نورو قاموس ليکوونکو د خپل وخت له شرايطو او ايجاباتو سره سم، د پښتو او پاړسي ژبي د زده کړي او رواجولو په لار کي تلپاته خدمتونه کړي دي، چي هيڅکله به د دې هيوادد ادبي او علمي تاريخ له حافظي هېر نسي .

د وياړ او خوښۍ ځای دئ، چي نن ځوان قاموس ليکوونکي - ښاغلي انجنير تيمورشاه يوسفزي هم د « فارسي - پښتو قاموس » په ليکلو سره، په دې ستر او ارزښتاک علمي- تحقيقي بهير ځان ورگډ کړ. هوډ دې غښتلی او همت دې لا لوړ يي (وي)! له نوو اوگټور بدلونو سره د قاموس ليکني ستونزمن خو په زړه پوري او گټور بهير ته د ښاغلي يوسفزي ورگډېدل، يو پلا بيا د هغو کسانو پر کاږه استدلال او ناسمو ادعاوو د بطلان کرښه کاږي، چي په ژبپوهنه، لغتپوهنه او داسي نورو علومو کي څه ويل يا څه ليکل، يوازي د تش په نامه اکاډيميکو پرېړو د خاوندانو حق گڼي؛ حال داچي له خپلي ملي ژبي سره مينه او له دې لاري د هيواد د فرهنگي پرمختگ او ملي يووالي او پيوستون په هيله گامونه پورته کول، ټول هغه څه دي، چي په ژبپوهنه، لغتپوهنه، متن پوهنه، لهجه پوهنه او داسي نورو علمي څانگو کي د پوهنتونو و ډيپلومو ته اړيتا نه لري . که په قاموس ليکنه او نورو علمي ادبي برخو کي د پوهنتوني پرېړو او قوالو په تمه ناست وای، اوس به د پښتو ادب په تاريخ کي د دې گوتو په شمېر اثارو څرک هم نه وای . له بلې خوا که زموږ اوسنيو مسلکي ژبپوهانو او لغتپوهانو د خپل مسلکي رسالت او مسووليت له مخي په دې برخه کي قلم چلولئ وای؛ د خلگو ورځنی ستونزي او مشکلات يې ليري کړي وای، بيا به ښاغلي يوسفزي او ما غوندي بې ډيپلومه کسانو ته، د دوی په باور، د بې ځايه خولو تويولو هيڅ اړتيا نه وای . د همدې دليل له مخي د ځوان مؤلف - ښاغلي يوسفزي علمي او تحقيقي کوښښونه د ډېري ستايني او قدرداني وړ دي .

انجينير تيمورشاه يوسفزي په خپل علمي او ادبي ذوق، لوړ استعداد، نه ستړي کېدونکي زيار او کوښښ سره زباد کړې ده، چي کولای سي د پښتو قاموس ليکني په اوسني علمي او پرمختللي بهير کي، په زړه پوري ونډه واخلي . د وطن دې دراک او تياند ځوان ته بايد د دې لوی او ارزښتناک علمي او فرهنگي وياړ له امله، د زړه له کومي مبارکي و وايو. البته، د علمي اثارو، په تېره بيا علمي- تحقيقي قاموسو ليکنه او تأليف په واقعيت کي د يوه يا دوو ليکوالو کار نه دئ؛ ځکه قاموسونه د ژبې له بېلابېلو ټکو، عبارتو او اصطلاحاتو سره سروکار لري، چي هغه هم په خپل وار د هري ورځي په تېرېدو سره، له رنگارنگ بدلونو او تحولاتو سره مخامخ دي . د نوو او پرمختللو لارو چارو په مرسته د ژبي د دغه راز بدلونو او تغييراتو پرله پسي څېړنه او شننه د دې علمي څانگي له مهمو او اساسي اړتياوو څخه شمېرل کيږي . دا ټولي خبري د نورو علومو په شان، په قاموس ليکنه کي د پرله پسي او نه ستړي کېدونکي کار غوښتنه کيي .

د ښاغلي يوسفزي د « فارسي - پښتو قاموس » د لا بشپړتيا او د هيواد د قاموس ليکني په چټک بهير کي د خپلي ونډي او پور د څه ناڅه اداينې دپاره دادئ، هغو ټکو ته لنډه اشاره کوم، چي رعايت يې د نوي او علمي قاموس ليکني په کار کي بې گټي نه دئ .

- د فونيټيکو تورو او نخښو په مرسته د را ټولو سوو ټکو ترانسکريپشن د اوسنيو قاموسو له خورا مهمو او گټورو ځانگړتياوو څخه گڼل کيږي؛ خوپه دغه راز تورو او نخښوکي بېلوالي او څو رنگی د قاموسو و لوستونکو ته لوی جنجال او سرخوږی پيښ کړئ دئ . د ښاغلي يوسفزي په قاموس کي د فونيټيکو تورو او نخښو د تشريح دپاره د مثالو وړاندي کول، ډېر په زړه پوري او معقول کار دئ . سره له دې هم د فونيټيکي الفبې په برخه کي بايد تر خپله وسه کوښښ وسي، چي د فونيټيکي الفبې توري او نخښې تر ممکنه حده د افغانستان د علومو اکاډيمۍ يا نورو علمي مؤسسو له منل سوو تورو او نخښو سره نيژدې والی ولري؛مثلاً :

مجهول يا اوږد واو: (o) : گور= Gor

معروف ( څرگند يا لنډ) واو په پښتو کي : (ū) نور( رونا/ رڼا، روښنايي)= nūr

معروف واو په پاړسي کي : موش (mūš)

نرم یا ساده واو په پاړسي او پښتو کي : (w) وردګ = Wardag

پاړسي پېښ یا پښتو واو: (u) أُستاد= ustα̃́d

مجهوله یا اوږده یاء( یای کشیده): (e) شیر ( اسد، غضنفر، زمری)=šer

په پښتو کي معروفه ( څرګنده یا لنډه ) یاء : (i) اسیر= asir

په پاړسي کي زېر یا کسره : (i) اِمروز= imroz

په دې قاموس کي غین او عربي قاف دواړو ته یوه نخښه (ɣ) ټاکل سوې ده . عربي قاف هم د ایرانیانو او هراتیانو د تلفظ له مخي ثبت سوئ دئ . دا کار په افغاني قاموس کي ستونزي او مشکلات پېښیږي؛ ځکه په افغانستان کي ځیني پاړسي وانان عربي قاف د عربانو په څېر وایي، چي د هغه دپاره (q) مناسب توری دئ؛ حال دا چي ځیني ایراني الاصله پاړسي وانان او هراتیان عربي قاف د غین په بڼه وایي . په پښتو کي د عربي قاف دپاره (k) او (q) دواړه مناسب ګڼل کیږي . د غین دپاره د افغانستان د علومو اکاډیمي داسي نخښه کاریږي، چي د انګرېزي جي(g) پر سر زموږ د اوو له یوه کوچني عدد سره ورته والی لري : (ğ)

په دې قاموس کي د جیم دپاره له (j + پر سر اووه) نخښي څخه استفاده سوې ده، چي په پښتو فونټیکو نخښو کي د (ځ) دپاره کاریږي .که دتوحید او همرنګۍ په خاطر دا نخښه په (j) واوړي، لوستونکو ته بې اساني ډېره سي . په قاموس کي د واو دپاره د (v) استعمالول هم یوازي د ایراني تلفظ استازیتوب کولای سي .که په ځیر سره وګورو، د افغانستان ټول دري ژبي خلګ واو د ایرانیانو په شان د انګرېزي (v) په بڼه نه، بلکي د انګرېزي (w) په ډول یې وایي . افغاني پاړسي ژبي خلګ هیڅکله وصف، میوه او داسي نور د (vasf)، (mevə́) په بڼه نه، بلکي د (wəsf)، (mewə́) په ډول یې وایي . د ایراني او افغاني پاړسي تر منځ د بې شماره ټکو په وینګ کي لوی توپیرونه سته، چي قاموس لیکوونکي یې باید په دقت تشخیص او تثبیت کي . دلته د « مشت نمونهٔ خروار » په دود د څو بولګو او مثالو یادونه کوو، چي تلفظ یې په ایراني او افغاني پاړسي( دري) کي فرق لري :

ایراني پاړسي : بُدو(būdo)،پاشو(pα̃́šo)، پِدر(pidar) تُوبیخ (tubix)دُولت (dulát)، عَراق (Arα̃́ğ) ، غَذا(ğəzα̃́) گمان (gamα̃́n)، سیر(sir) ( په معروفه یاء، هغه چا چي پوره خواړه خوړلي یي، موړ) ، شیر(šir) (په معروفه یاء، زمری) او داسي نور.

افغاني پاړسي( دري): بِدو(bidəw)،پَشو(pəšo)، پَدر(pədár)، تَوبیخ (təubix)، دَولت (dawlát)، عَراق (Irα̃́q/Irα̃ğ) ، غِذا(ğizα̃́) گُمان (gūmα̃́n) ، سېر(ser) ( په مجهوله یا اوږده یاء، هغه چا چي پوره خواړه خوړلي یي، موړ) شېر(šer) ( په مجهوله یاء، زمری) او داسي نور.

لغتپوهنه موږ ته را ښیي، چي له یوې ژبي څخه بلي ژبي ته د کلیمو په تلو را تلو کي ډول ډول سیمانټیکي، مورفالوژیکي او فینالوژیکي بدلونونه پېښیږي . قاموس لیکوونکی باید د کلیمو د تلفظ ښوولو دپاره همېشه د هغو خلګو تلفظ په پام کي ونیسي، چي له قاموس څخه کار اخلي . البته، په بېلابېلو لهجو کي د ځینو ټکو د مغیره تلفظو ثبتول هم پر خپل ځای ډېر ګټور کار دئ؛ لکه : سابقاً

سابیقن(sα̃́bíqán) : د افغانستان د زیاترو دري ژبو تلفظ.

سابیغن(sα̃́bíğán) : د هراتیانو، دافغانستان د ایراني الاصلوپاړسي ژبو او ایرانیانو تلفظ.

ایرانیان غیرملفوظه هي (هـ)، چي په حقیقت نه تلفظ کیږي، د مجهولي « ی » په بڼه وایي؛ لکه : مردې، زندې، شغلې، فریدې او داسي نور. له دې اسیته دغه راز ټکو ته په خپلو فونیتیکو تورو کي د (h) توری هم ور زیاتیي؛

حال داچي په مرده، زنده، شغله، فريده او داسي نورو ټکوکي غيرملفوظه هي(هـ) اصلاً هيڅ ږغ نه لري . په دغه راز ټکو کي ږغ په واقعيت کي هغه زورکی دئ، چي تر غيرملفوظي (هـ) مخکي راځي . د دې استدلال له مخي د زورکي دپاره تقريباً په ټولو فونيټکو الفباوکي د انګرېزي سرچپه يي(ə) نخښه کارېږي . که د دې قاموس په راتلونکي چاپ کي هم د زورکي دپاره له دغي نخښي څخه کار واخيستل سي، له نورو پښتو قاموسو سره به د فونيټيکو نخښو د توحيد او همرنګۍ په برخه کي مرسته وکي .

- د دې دپاره چي لوستونکي د راغونډو سوو قاموسي سرټکو ګرامري نوعيت او جوړښت وپېژني، په اوسنييو قاموسوکي د کلام د اجزاوو( اسم، ضمير، فعل، صفت، قيد او داسي نورو) او ځينو نورو ګرامري خصوصياتو لکه ( مذکر، مؤنث، مخنث، مفرد، جمع، فاعل، مفعول او داسي نورو) د پېژندني په باب لنډ مالومات وړاندي کيږي . هيله من يم ښاغلی يوسفزی هم د خپل قاموس په بل چاپ کي، د مخففو نخښو په ښه، د راغونډو سوو سرټکو د نوعيت او ځينو نورو ګرامري ځانګړتياووپه باب مالومات هېر نه کي .

- د ځينوعربي، تورکي او اورويايي ټکو د پېژندني دپاره د مخففو نخښوکارول د دې قاموس له لويو ښېګڼو څخه ګڼل کيږي . د افغانستان د علومو اکاډيمی پښتو- پښتو تشريحي قاموس پر خپل ټول علمي او تحقيقي ارزښت سربېره، دې اړخ ته هيڅ پام نه دئ کړئ . ښاغلی يوسفزی بايد تر دې وروسته کرار کرار د قاموسي سرټکو د ريښې ښوولو پر مسأله هم غَور وکي؛ مثلاً وښيي، چي د عربي ژبي « صندل » په حقيقت کي د سنسکريت ژبي له « چندن » څخه اخيستل سوئ دئ يا په دري او پښتو کي مستعمله کليمه « کيچري/کيچړی » اصلاً د هندي ژبي له « کهچړي » څخه اخيستل سوې ده او داسي نور . که د قاموس ليکني په کار کي له سرې سيني، تحقيق او پلټني څخه کار واخيستل سي، د راغونډو سوو ټکو د ايتيمولوژيکي اړخو ښوول هم څه ګران کار نه دئ .

- د ښاغلي يوسفزي د پاړسي- پښتو فرهنګ زياتره برخه پر نوو ټکو( نيولوجيزم) ولاړه ده . په قاموسوکي د نوو ټکو ثبتول ډېره جنجالي مسأله ده؛ ځکه د دغه راز نوو ټکو ډېره برخه د خوګوتوپه شمېرکسانو د ذهن زېږنده ده؛ له دې کبله په ډېرو مواردو کي پر ژبپوهانو، لغتپوهانو او متن پوهانو سربېره د عامو خلګو ملاتړ هم له ځانه سره نه لري . په بله وينا، دغه راز ټکي د اسانی، سادګۍ، پوخوالي، خوږوالي او عاموالي تر ازموينو بريالي نه راوزي . زما په قاصر نظر، په افغاني قاموسو کي بايد د نوو ټکو د راټولو او ثبتولو په کار کي منځنۍ لار غوره سي . له منځنۍ لاري څخه مي مقصد دا دئ، چي يوازي هغه نوي ټکي بايد د ژبي په عمومي او معياري قاموسوکي ثبت سي، چي لغتپوهانو، ژبپوهانو او عامو خلګو په ورځني ژوندکي منلي يي؛ ځکه پوهېږو، چي په قاموسوکي د هر راز نوو ټکو ثبتول د ژبي له بي خونده کولو، پردی کولو او ورانولو سره مرسته کيي . بالعکس د نوو ټکو له راغونډولو څخه يومخيزه نټه هم د قاموس ليکني له طبيعت سره اړخ نه لګيي؛ ځکه قاموسونه بايد تل د ژبي له نوو بدلونو او پرمختګو سره جوخت د هغو نوو ټکو، عبارتو او اصطلاحاتو و راټولو او تشريح کولو ته ځای ورکي، چي خلګ يي د خپل ورځني ژوند په بېلابېلو برخوکي کاريي .

- په قاموسوکي بايد د راغونډو سوو ټکو، عبارتو او اصطلاحاتو د مانا او تشريح دپاره تل ساده، اسانه او روښانه ژبه استعمال سي؛ ځکه د نااشنا، نامأنوسو او خودساخته ټکوپه مرسته د قاموسي سرټکو (headwords) مانا په خپله هم د معما ښه اخلي . د معما د جوابولو دپاره بايد هيڅکله له معما څخه کار وانخيستل سي . پېچلي تعريفونه او نا اشنا ماناوي هيڅکله د لوستونکو مشکل نه حليي؛ له دې سَوَبه اړ وزي، چي د خپلي ورپېښي ستونزي د حلولو دپاره ونورو فرهنګوته مخ ونيسي . د « سازمان خيريه » دپاره د « ښېګڼيز سازمان » ترجمه سمه نه ده . هيڅوک « ښېګڼيز » نه وايي . دا کليمه په ويلو کي ډېر ثقلت او ګراني پيښيي . له دې اسيته يي بايد له استعماله

ډېره وسي . پر ځای یې « خیریه ټولنه »، « د خیر ټولنه »، « د ښځګنۍ ټولنه » او داسي نور عبارتونه اسانه، خوندور او په زړه پوري دي . موږ ټولو « کځ » اورېدلئ دئ؛ خو« کځیز » هیڅوک نه پېژنو. موږ په پښتوکي زیاتره اوباز( آب باز) او کله کله لامبوزن کاروو؛ خو« لامبوګر» مو هیڅکله نه دئ اورېدلئ . ښایي نه یوازي ما، بلکي هیڅ بل پښتانه نه یې اورېدلئ . موږ له بابا آدمه تر دې دمه « بزګر » وایو، چي اوږده آریایي ریښه لري . تر « بزګر» وروسته « دهقان » هم د تاریخي بدلونو په لړ کي له پېړییو پېړییو راهیسي وپښتني چاپېر ته لار موندلې ده . اوس ځیني پښتانه « بزګر » او ځیني نور« دهقان » وایي . دا دوه ټکي اوس زموږ د لغوي زېرمي اصلي او نه جلاکېدونکي برخه ده .کله چي له پېړییو پېړییو« بزګر » او « دهقان » لرو، بیا نو« کرګر» جوړولو ته څه اړتیا وه؟ خلګ نه « لامبوګر» مني او نه « کرګر» ځکه دا دواړي کلیمي د خلګو د اړتیا له مخي نه ، بلکي د سوچه پالني د ناوړه او ورانوونکي ناروغی د ارضاپه مقصد جوړي سوي دي . قاموس لیکوونکی باید هیڅکله د نیولوجیستانو او پیوریستانو د ناوړو بدعتو او کړنو پېښې ونه کي .

دقاموس لیکوونکي مسوولیت او رسالت د یوې ژبي د لغوي زیرمي را ټولول؛ او په ساده او اسانه ژبه مانا کول دي او بس . باید په دې روښانه حقیقت سر خلاص کو، هر څونه چي خپل جعلي ټکي د خلګو په سپېڅلي او خوږه ژبه ګډوو، په هغونه اندازه خلګ له خپلي خوږې او سپېڅلي ژبي پردي کوو؛ او نورو ژبو تې( ته یې) د تښتولو لار برابروو. پښتون ژورنالیست، لیکوال، څېړونکی، ژبپوه او قاموس لیکوونکی باید هیڅکله په ژبه کي داسي لاسوهني و نه کي، چي خلګ له پښتو لیک - لوست څخه خواتوری کي . موږ ټول شاهدان یو، چي نن سبا په پښتو کي د « یز » شاوندی یا پسوند خورا په پېخر کارېږي . لغت جوړونکو که د هري نوي کلیمي د وروستۍ برخي دپاره بل څه پیدا نه کړه، بیا نو هرومرو « یز » ورستاړی ور سره تړي؛ او له دې لاري د چا خبره د پښتو نوي ټکي جوړیږي؛ خو واقعیت دا دئ، چي له هر ټکي سره د « یز » حق و ناحق تړل، پښتو ژبي ته جعلي او غیرطبیعي بڼه ورکيي . خلګ جعلي او تپل سوي شیان نه مني .که د « اجتماعي » دپاره په پښتو کي د « ټولنیز» کلیمه جوړه سوې ده، دا سمه او سهي خبره ده؛ ځکه اجتماعي او ټولنیز دواړه صفتونه (adjectives) دي ؛ او دواړه ټکي د مانا او ګرامري نوعیت په لحاظ ورته والی او همرنګي لري؛ مګر د پاړسي پیشنهاد ( پیش + نهاد) دپاره د (وړاند+ یز) کلیمه په ګرامري لحاظ څه نوعیت لري؟ که پښتو« وړاند» د پاړسي پیش ( په ځینو حالاتو کي قید او په ځینو حالاتو کي پریپوزیشن) معادل وګڼو، ایا د « یز» د پاړسي نهاد( د نهادن له مصدر څخه ماضي فعل) معادل کېدای سي؟ « نهاد » چیري او « یز» چیري؟ ایا « یز» څه مالګه یا دارو دي، چي په هر دېګ کي باید ولوېږي؟ هغه ورځ مي د همدې اختراعاتو په لړ کي « اوړونټکی» ولیدئ، چي د انګرېزي ژبي د turning point) او د پاړسي د « نقطهٔ عطف » دپاره یې جوړ کړئ دئ . د « اوړونټکي » جوړونکی په دې نه پوهېږي، چي انګرېزي (turning point) یا پاړسي « نقطهٔ عطف » د مانا او مفهوم په لحاظ څه ته ویل کیږي؟ کي د دې ترکیبي ټکي په اصلي او اساسي مانا سد رسېدلای، هیڅکله بې په دې بې مانا تحت اللفظي ژباړه پښتو نه خرابولای . په داسي حال کي، چي په پښتو کي له پېړییو پېړییو راهیسي د اوښتون، بدلون، تغییر او تحول ټکي کاروو، ایا د « اوړونټکي » جوړولو ته څه اړتیا لیدل کېده؟ پښتانه تل په خپلو خبرو کي وایي : « پلاني فیلسوف، مخترع یا سیاسي مشر په ټولنه کي بدلون راوست یا راوستئ . » دې ته پښتو نسو ویلای ، چي څوک ووایي : « پلاني فیلسوف، مخترع یا سیاسي مشر په ټولنه کي اوړونټکی را منځ ته کړ . » « اوړونټکی را منځ ته کړ» یاني څه؟! ولي باید اسانه او خوږه ژبه په لوی لاس پېچلي او مروړلي کو؟ له همدې سَوَبه ناځاپه نه ده، چي داسي ناوړه او بې خونده ایجادات په عامو خلګو کي هیڅکله لار نسي موندلای .

دا خبره هيڅ دليل او برهان ته اړتيا نه لري، چې موږ بايد هيڅکله د پردو ټکو بېلابېلي برخي يا توري هو په هو و نه ژباړو، بلکي پر ځای يې په خپله ژبه کي د داسي ټکو پلټنه او گروېږنه وکو، چې د همغو پردو ټکو ټول مفهوم او مانا په بشپړه، ساده اسانه او ښه افاده کړای سي . که مو تر پلټني او گروېږني وروسته مناسبي کليمي ونه موندلي، بيا به نو د سادگی، اسانی، خوږوالي، پوخوالي او عموميت د اصولو په رڼا کي نوي ټکي ورته جوړوو. البته، خپل جوړکړي ټکي به تر خپرولو او رواجولو مخکي د ژبپوهانو، لغتپوهانو، ليکوالو او عامو خلگو وسلا مشورې او نظر پوښتني ته وړاندي کوو. که چيري عام و خاص و منل بيا به يې په ترويج او تعميم لاس پوري کوو. روښانه خبره ده، د هغو نوو ټکو له منلو څخه نو هيڅوک نټه نسي کولای، چي په دې ډول ميدان ته را ووزي . په ډېري خواشينی سره، په موږ کي ځيني سرزوري خپلو اپلتو ته د قرآن د کربښو په سترگه گوري؛ او پر دونيا هيچا ته اجازه نه ورکيي، چي پر ناسموالي، نيمگړتيا اوبې خوندی يې خبري وکي . ښاغلی يوسفي بايد په خپل ټول واک او ځواک کوښښ وکي، چي خپله قاموس ليکنه ددغه راز لغت جوړونکو له ناوړو اغېزو خوندي وساتي . دلته د دغه راز ناوړه اغېزې څو مثالونه ښيم : د قاموس په اتم ( ۸) مخ کي و « آذری » ته کښل سوي دي : اورنی، اوريز. زما خو په « اورني » او « اوريز» سرنه خلاصيږي . نه پوهېږم، چي د نورو لوستونکو به څه حال يي؟ دا خبره سمه اوسهي ده، چي« آذری » د « آذر» له ټکي څخه اخيستل سوئ دئ؛ او « آذر» داور مانا لري . د آذربايجان نوم هم له همدې ريښي څخه جوړ راوتلئ دئ؛ خو« اورنی » او « اوريز» پر لغوي مانا سربېره د « آذري » ادبي، تاريخي او ديني مفاهيم هم نسي بيانولای . « اورنی » او « اوريز» حتا د « آذري » ټکی په ټکی ترجمه هم نسو گڼلای ؛ حال دا چي تحت اللفظي يا ټکی په ټکی ترجمه له لويه سره د کليمو مفاهيم او ماناوي سمي نسي تشريح کولای؛ ځکه نو بايد په کلکه لاس ځني واخلو. زما په گومان اورپالونکی، اورپرست، آتش پرست، گبر، زردشتی، د زردشت پيرو، مجوس ( عربان آذري ته مجوس وايي) ، فارسی ( د هند د نيمي وچي خلگ و آذري يا آتش پرست ته فارسي وايي) د « آذری » اصلي او سهي ماناوي دي . په دغه راز ماناوو سره « آذري » کليمه سمه او اسانه پېژندله کيږي . « مخوريز» کليمه هم د « آبدار» دپاره مناسبه او موزونه نه ده . مَخَوَر په پښتو کي د متنفذ، بارسوخه، نامتو، پېژندل سوي، معتبر، د برم او پرتم خاوند او داسي نورو په مانا استعماليږي، چي هيڅکله بايد له « يز» ورستاړي سره ونه تړل سي . موږ په جنوب - لوېديځه لهجه کي«آبداره» د پتمن، عزتمن، باوقاره، ښاغلي ، محترم او داسي نورو په مانا استعمالوو . د قاموس ليکوونکي وظيفه او رسالت هم دادئ، چي لوستونکو ته د راغونډو سوو ټکو ماناوي په ښه او اسانه لار ور وپېژني . يو ځل بيا وايم،چي قاموس ليکوونکی بايد ځان د خپلسرو لغت جوړونکو له شره خوندي وساتي،که نه نو له پښتو څخه به « مښتو» جوړه کي، چي بې پېريانو او جينانو به بل هيڅوک نه په پوهېږي . کله چي خلگ د يوې ژبي په کليمو، عبارتو او اصطلاحاتو پوه نسي له هغي مخ گرځيي؛ او پر ځای يې ونورو ژبو ته پناه وړي . نورو ژبو ته د پښتنو اړ ايستنه د پښتو ژبي د مرگ او نابودی په مانا ده. تاسي به وگورئ، چي د ايرانيانو کارواژه ( فعل)، نام واژه ( اسم/ نام)، کارمايه ( سرمايه)، رايانه ( کمپيوټر)، سه بر( مثلث)، رواديد(ويزه)، صدا وسيما( راديو تلوېزون)، موشک ( توغندی/ راکيت)، راهبرد( ستراتيژي)، کاربرد ( تاکتيک) او داسي نور چټيات له پارسي ژبي، په تېره بيادري څخه څه جوړيي؟! جواب څرگند او روښانه دئ : نااشنايي، خواتوري، تباهي او بالاخره نابودي . په پخوا زمانو کي خلگو ځکه له پارسي سره مينه پيدا کوله، چي د عربي، هندي، تورکي، پښتو او نورو ژبو لغتونه يې خوندي کړي وه؛ هر چا ته اسانه او اشنا ښکارېدله؛ خو اوس د هري ورځي په تېرېدو سره د نورو ژبو پر ويوونکو

سربېره، په خپله د پارسي ژبې ویوونکو ته هم پردی مالومیږي . موږ به خپله ساده، اسانه او خوږه پښتو ادا شوېدنګ نه کوو.

- د قاموسو په لیکنه او تألیف کې یوه بله مهمه او عمده مسأله دا ده، چې د راغونډو سوو ټکو ماناوې او تعریفونه باید تل له مستندو او معتبرو ماخذو څخه واخیستل سي . څو ورځې مخکې مې په « افغان - جرمن آن لاین » ویبپاڼه کې، هغه مضمون تر سترګو سو، چې ډېر کلونه پخوا د « فلسفهٔ سید جمال الدین افغانی » تر عنوان لاندې د ارواښاد صلاح الدین سلجوقي له خوا کښل سوئ دئ؛ خو دمګړی یې د لنډولو، سمولو او بیا ټایپولو چاري ښاغلي ولي احمد نوري، بشپړی کړي دي . په دې مضمون کې ارواښاد سلجوقي د فلسفې او منطقو د عِلم یوه مشهوره اصطلاح ( استقراء) داسې تعریف کړې ده : « . . . پس استقراء کلیات از جزئیات و تعلیل جزئیات از کلیات . . . » ښاغلي نوري هم په خپل وار د مضمون په حاشیه کې د « استقراء » وکلیمې ته داسې شرحه کښلې ده : « استقراء کلمهٔ عربی است - اسم مصدر- بررسی موارد جزئی و نتیجهٔ کلی از آن - روشی برای رسیدن به نتایج کلی از واقعیت های مشخص- روش علوم طبیعی . » د ارواښاد سلجوقي مضمون او د ښاغلي نوري شرحه د دې لینک په کارولو سره لوستلای سئ :

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/walinouri_said_jamaluddin_afghan_14.pdf

د ارواښاد سلجوقي په تعریف کې له ورایه متضادي خبري سوي دي : « استقراء کلیات از جزئیات و تعلیل جزئیات از کلیات » . سړی اریان پاتېږي، چې « استقراء » له کلیاتو څخه د جزییاتو استخراج وګڼي؛ او که د هغه سرچپه ( له جزییاتو څخه کلیات؟) حال دا چې د ښاغلي نوري له تشریح او بیان څخه په ډاګه ښکاري، چې « استقراء » له جزء څخه د کُل استخراج دئ؛ څکه دی کاږي : « بررسی موارد جزئی و نتیجه گیری کلی از آن - روشی برای رسیدن به نتایج کلی از واقعیت های مشخص . »

زما په ذهن کې له پخوا څخه داسې حک سوي وه، چې « استقراء » له کُلي او عمومي احکامو څخه د جزیي احکامو استخراج؛ او « قیاس » د هغه پر خلاف له جزیي احکامو یا واقعیتو څخه د کُلي او عمومي احکامو و را ایستلو ته وایي . په دې وجه، د ارواښاد سلجوقي متضاد تعریف او د ښاغلي نوري سرچپه شرحې قانع نه کړم . له ځانه سره مې سوچ وکئ، چې یا زما حافظه کمزورې سوې ده یا دوی له ناباوره منابعو څخه استفاده کړې ده . تر هر څه مخکې مې د خپل ګډوډ ذهن د روښانولو دپاره د ارواښاد حسن عمید درې جلدي فارسي فرهنګ وکتئ . عمید د خپل فرهنګ د اول ټوک په یو سل و پینځه اویایم ( ۱۷۵) مخ کې د استقراء عامې ماناوې ( تفحص، جستجو، تحقیق، کنجکاوی، تتبع در کاری، قریه به قریه گشتن، در شهر ها گردیدن) کښلې دي؛ خو د دې ټکي هغه اختصاصي مانا یې نه ده ثبت کړې، چې په فلسفه او منطقو کې کارېږي .

ما استقراء (deduction) او قیاس (induction) له انګرېزي اثارو څخه زده کړي وه؛ څکه نو په دې پوهېدم، چې دا دوه مفاهیم باید په انګرېزي فرهنګ کې چیري ولټوم . له دې امله مې دا پلا د ډاکټر عباس آریانپور کاشاني او ډاکټر منوچهر آریانپور کاشاني دوه جلدي کلیجېټ انګرېزي - پارسي فرهنګ وکتئ . عباس آریانپور او منوچهر آریانپور د ایران له مشهور قاموس لیکوونکو څخه دي . زما سره یې په سي ډي کې د انګرېزي - پارسي ژبې شپږ جلدي قاموس هم سته . دې دوو مؤلفانو د خپل کلیجېټ قاموس د لومړي ټوک په پینځه سوه شپېتم ( ۵۶۰) مخ کې د (deduction) یا « استقراء » تر اختصاصي مفهوم لاندې داسې کښلي دي : « استقراء جزء از کل، پی بردن از کل به جزء یا از علت به معلول، قیاس . » وروسته مې د همدې لومړي ټوک په یو زر و یو سل

و شپېړم ( ۱۱۰۶) مخ کي د(induction) يا « قياس » مانا وکتله، چي داسي ورته کښل سوي دي : « قياس، قياس کل از جزء، استنتاج، استدلال . » د ايراني مؤلفينو په تعريفو مي هم قناعت و نه کئ؛ ځکه د « استقراء په ماناوو کي قياس هم کښلئ دئ، چي په واقعيت کي له هغه سره تضاد او مغايرت لري . وروسته مي ځينو انګرېزي قاموسو ته مخه کړه . په آکسفورډ ډيکشنرئ کي مي د استقراء (deduction) داسي تعريف وموند:

“The inferring of particular instances from a general law.” p. 351.

ياني له عمومي قانون يا قاعدې څخه د خاصو يا مشخصو حالاتو را ايستل يا نتيجه ګيري کول . زما په ذهن کي هم له پخوا څخه همداسي يو مفهوم حک سوئ ؤ.

په همدې انګرېزي قاموس کي د قياس (induction) تر سرټکي لاندي داسي راغلي دي :

“The inference of a general law from particular instances.” p. 693.

ياني : له خاصو حالاتو څخه د عمومي قانون يا قاعدې را ايستل . د قياس مثال د استقراء پر خلاف دئ :

که څه هم د آکسفورډ ډيکشنرئ لنډو تعريفو مي ذهن قانع کئ؛ خو د ډاډ او باور دپاره مي په اميريکن هيريټيج ډيکشنري او کالينز ډيکشينرئ کي هم دا تعريفونه له سره وکتل . په اميريکن هيريټيج ډيکشينرئ کي د استقراء (deduction) په باره کي ډېر اوږد مالومات ليکل سوئ دئ، چي زې( زه يې) فقط يوه جومله را اخلم :

“inference by reasoning from the general to the specific.”

په کالينز ډيکشينرئ کي د قياس (induction) په اړه داسي ليکل سوي دي :

“the process of deriving general principles from particular facts or instances.”

ياني له مشخصو حقايقو يا حالاتو څخه د عموي اصولو يا کُلي قواعدو د استخراخ پروسه .

د اميريکن هيريټېج ډيکشينرئ او کالينز ډيکشينرئ تر تعريفو وروسته پوره ډاډه او باوري سوم، چي د ارواښاد سلجوقي او ښاغلي نوري تعريفونه زموخته، پېچلي، متضاد او بالاخره ناسم دي؛ حتا ډاکټر عباس آريانپور او منوچهر آريانپور هم و « اسقراء » ته د « قياس » په ليکلو سره، د خپل قاموس و لوستونکو ته لوی سرخوږی پېښ کړئ دئ .

په دې ډول، اسقراء له کُلي يا عمومي احکامو څخه د جزيي يا ځانګړي حُکم استخراج ته وايي؛ لکه په دې مثال کي :

ټول نېک انسانان د خلګو ښېګڼه غواړي ( عمومي قانون/ قاعده ، کلي حُکم، عمومي فرضيه ، کبرا قضيه) .

احمد هم د خلګو ښېګڼه غواړي ( صغرا قضيه، کوچنۍ فرضيه، مشخص يا خاص حُکم) .

نتيجه : احمد نېک انسان دئ .

قياس د « استقراء » پر خلاف له جزيي يا ځانګړي فرضيي څخه د کُلي يا عمومي فرضيي د را ايستلو په مانا دئ؛ لکه په دې مثال کي :

احمد عقل او شعور لري ( صغرا قضيه، کوچنۍ فرضيه، مشخص يا خاص حُکم) .

ټول انسانان عقل او شعور لري ( عمومي قانون/ قاعده ، کلي حُکم، عمومي فرضيه ، کبرا قضيه) .

نتيجه : احمد انسان دئ .

البته، استقراء او قياس د فلسفي او منطقو په عِلم کي خورا لوی بحث دئ، چي نه زموږ له ننۍ ليکني سره خاص اړېکی لري؛ او نې په دې څلو جوملو کي حق ادا کېدلای سي . دلته يې د يادوني اساسي مقصد دا ؤ، چي قاموس ليکوونکی بايد تل د راغونډو سوو سرټکو د مانا او توضيح دپاره له معتبرو او مستندو ماخذو او سرچينو څخه کار

واخلي؛ او هيڅکله په خپلو قاموسو کي کمزورو، نيمګړو، متضادو او متناقضو تعريفو ته ځای ور نه کي . هغه قاموس پر عامو خلګو سربېره په علمي او تحقيقي ټولنو کي هم د معتبر او مؤثق ماخذ په توګه کارېږي، چي ليکوونکی/ ليکوونکي يې د راټولو سوو کليمو په ماناوو او تعريفوکي له مستندو، بشپړو نوو منابعو څخه کار واخلي . د همدې اصل په اړه د ښاغلي يوسفزي له قاموس څخه څو ژوندي مثالونه :

په ( ۴۸۲) مخ کي د « ساقط » تر عنوان لاندي د نقصان سوي اولاد مانا سمه نه ده؛ ځکه د نقصان سوي بچي دپاره بايد د سِقط(siqt)کليمه استعمال سي نه ساقط؛ لکه په « سقط جنين » کي . سقط کليمه د سين په زْوَر او پېښ ( سَقط/ سُقط) هم راغلي ده ( وګورئ عميد ۲ : ۱۴۴۱). ساقط کليمه په عربي کي د حذف سوي، ورک او هېر ماناوي هم لري (وګورئ : .Wehr 415) .

په ( ۷۳۶) مخ کي « مادام الحيات » ته کښل سوې دي : په ژوند کي يو ځل . دا مانا سمه نه ده . «مادام الحيات» له دوو برخو څخه ترکيب سوې کليمه ده . « مادام » په خپله هم مرکبه کليمه ده، چي له « ما » او « دام » څخه جوړه سوې ده . « ما» او « دام » دواړه په ګډه : تر هغه مهاله، تر هغه وخته او داسي نوري ماناوي لري . « حيات » کليمه ټول خلګ پېژني، چي د ژوند په مانا کارېږي . په دې ډول « مادام الحيات » ياني تر څو چي ژوندی يې(وي)، تر هغو چي پايي، د ژوند تر اخيره ( وګورئ : عميد ۳: ۲۱۳۴) .

- په دې قاموس کي د نوي قاموس ليکني له اصولو او قواعدو سره سم، د مترادفو ټکو د پېژندني او ځای بچتولو دپاره له کراس ريفرينس (cross-reference) څخه کار اخيستل سوئ دئ؛ مثلاً « ساعي » کليمه و « کوشا » ته ارجاع سوې ده . دا کار له يوې خوا لوستونکي له مترادفو ټکو سره اشنا کيي؛ او له بلي خواد قاموسو د حجم د بېځايه زياتوالي مخه نيسي . که د متضادو، متقاربو او اړونده ټکو په پېژندنه کي هم له دې اصل او قاعدې کار واخيستل سي، له لوستونکو سره به د بېلابېلو ټکو په اسانه پېژندنه او موندنه کي ډېره لو مرسته وکي؛ مثلاً د « استقراء » د ماناوو په پای کي دي وليکل سي : وګ : قياس يا استنتاج . يا د « تاسوعا» په پای کي دي وکښل سي : وګ : « عاشورا» او داسي نور .

- د دې قاموس يوه لوښېګنه دا ده،چي دزياترو ټکو د مانا په توضيح او تشريح کي د پښتو ژبي د لويو او مهمو لهجو مغيره حالات ثبت کړي دي؛ مثلاً د « سابقاً » دپاره کښل سوي دي : په لرغوني وخت کي،په ړومبني وخت کي، پخوا، دمخه . دغه راز « آب خوردن » ته ليکل سوي دي : اوبه ښښل، اوبه څکل، اوبه چکل . « ښښل » د دې لغت اصلي او سپېڅلي بڼه ده . ښاغلي يوسفزي هم له دې اسيته د ماناوو په اوډنه کي لومړيتوب ورکړئ دئ . دې قاعدې ته بايد ټل د کليمو د بېلابېلو ماناوو په اوډنه کي، دقيق او ژور پام وسي . په دې ارتباط يو بله مهمه خبره داده، چي پښتو قاموس ليکوونکی بايدهمېشه د قاموسي سرټکو په ماناوو کي د څېړني او پلټني ورشو پراخه وساتي؛ مثلاً« مردم » کليمي ته په ترتيب سره : وګړي، خلګ/خلک، اولس/ ولس، خلق، عوام او داسي نور راوړي . اوله مانا د پښتو ژبي سپېڅلی ټکی دئ، چي زموږ په لرغونو متنو کي هم راغلئ دئ؛ او تر اوسه هم زموږ د ځينو هيوادوالو پښتنو په ژبه کي ژوندی ده . د خلګ/ خلک مفغن او د اولس/ ولس دخيل ټکي په پښتو لهجو کي مغيره تلفظونه دي . د « خلق » عربي کليمه د پښتو په لرغوني او منځني ادب کي خورا ډېره کار سوې ده؛ تر اوسه يې هم زموږ ځيني پښتانه په همدې بڼه وايي . بالاخره زموږ کښته پښتانه د مردم يا خلګو دپاره « عوام » ټکی هم ډېر کاريي . په قاموس کي د دغه راز ټکو او مغيره حالاتو په ليکلو سره نو پر دې خوا افغانانو سربېره، د آ خوا پښتنو علمي او ادبي ستونزي هم حليږي . سربېره پر دې، دا کار د پښتو ژبي د لغوي زېرمي د پراخولو اود بېلابېلو لهجو په پېژندنه کي هم ډېره لو او په زړه پوري ونده اخيستلای سي .

- باید تر وسه وسه کوښښ وسي، چي گران او پیچلي ټکي له نسبتاً زیاتو تشریحاتو او ماناوو سره راوړو؛ او د عامو او اسانه ټکو په مانا کولو کي له زیاتو توضیحاتو څخه ډډه وکو؛ مثلاً په اول مخ کي د « آب دادن » ټکي ته ډېري ماناوي کښل سوي دي؛ لکه : اوبه ورکول، اوبول، پنول، خړوبول، اوبه ورکول، لندول، خیشتول، اوبه کول . زما په عقیده د « آب دادن » د تشریح دپاره د اوبول او اوبه ورکول ماناوي کافي دي؛ په دې دوو ماناوو کي ټولي ماناوي نغښتي دي؛ خو تر « آبیاري » لاندي کولای سوپر دغو دوو ماناوو سربېره، پنول او خړوبول هم وکاږو . په دریم ( ۳) مخ کي « آب سیاه » ته کښل سوي دي : توري اوبه ، د سترگو مرض . د سترگو مرض په یوازیتوب سره د قاموس لوستونکي ته هیڅ نه ورکیي . قاموس لیکوونکی باید پوه سي، چي « آب سیاه » د سترگو څه ډول ناجوړي یا مریضي ده؛ څه اعراض او علایم لري . په دې قاموس کي « آپاندیست » هم له دغه راز ټکو څخه دئ، چي باید د نخښو او ان علاج په باب یي څه نا څه وویل سي . په ( ۴۸۰) مخ کي « سار» ټکي ته « شامتوره » کښل سوي ده . « شامتوره/ شمتوره/ شامتوله » د پښتو په مرکزي او ختیځه لهجه کي ډېره استعمالیږي، د جنوب لوېدیځي لهجي ویونکي نه په پوهېږي . زما په گومان شامتوره/ شامتوله د مینا یو ډول دئ، چي په انگرېزي کي (starling, myna, mynah) بولي . په دې دلیل چي طبیعي موجودات ( ژوي، بوټي او د انسانانو پر شاوخوا نور طبیعي مواد) د جغرافیایي موقعیت، جوي او اقلیمي شرایطو او داسي نورو عواملو له امله په خلگو کي بېلابېل نومونه لري یا دا چي د یوې سیمي طبیعي موجودات په بله سیمه کي له لویه سره نه پیدا کیږي، ځکه نو باید د دغسي شیانو د دقیقي او سهي پېژندني دپاره په نورو لهجو کي هم د هغو معادل ټکي وکښل سي یا یي د ښې او اسانه پېژندني دپاره په ساده ټکو، څو مهم اړخونه او خصوصیتونه هم بیان کړل سي . که نه نو د فرهنگ د استفادې ورشو څه نا څه تنگېږي . د افغانستان د علومو اکاډیمۍ په پښتو- پښتو تشریحي قاموس کي د « هوتک » کلیمي د تشریح دپاره، یوازي دونه کښلي دي : «هوتک د پښتنو ستره قبیله ده . »( امرخېل او نور، ۴: ۳۰۵۵). دا داسي مانا لري، لکه سړی چي د « پیل » د پېژندني دپاره ووایي : « پیل یو غټ حیوان دئ . » مگر لویي قبیلي او غټ حیوانات لږ دي؟! زموږ پوه او هوښیار لوستونکي په دې ښه پوهېږي، چي دا جومله د قاموس د لوستونکو هیڅ درد نه دوا کیي . نا حقه یي د قاموس حجم په زیات کړئ دئ . حقیقت دا دئ، چي قاموس لیکوونکي ځان ته زحمت نه دئ ورکړئ، چي د هوتکو د تاریخي، جغرافیایي، ایتنوگرافیکي،دیموگرافیکي او ادبي اړخو په اړه لوستونکو ته څه نا څه مالومات وړاندي کي یا د پیل د ځینو مهمو او اساسي ځانگړتیاوو په باب د لوستونکو ذهن روښانه کي . لغتپوهان د قاموسي سرټکو د تعریفو په باره کي د جامعیت او مانعیت اصل ته اشاره کیي . د دې اصل له مخي باید تعریفونه له یوې خوا بشپړ او له بلي خوا په داسي ټکو او جوملو کښل سوي یي، چي له ورته شیانو سره د التباس او گډوډۍ مشکل پېښ نه کیي . ښاغلی یوسفزی باید همېشه په خپل قاموس کښي له داسي تعریفو څخه ډډه وکي .

- د لرغونو، گرانو او نا اشنا ماناوو د توضیح او بیان دپاره کله ناکله د ځینو منظومو او منثورو شواهدو او مدارکو وړاندي کول هم بې گټي کار نه دئ . په اول مخ کي « آباد » ټکي ته څو ماناوي کښل سوي دي . نوري ماناوي یي گرده واضح او روښانه دي؛ خو یوه مانا ( کرل سوی) یي ماته نا اشنا ښکاره سوه . د داسي مانا د ملاتړ دپاره د ژبي له منظومو یا منثورو اثارو څخه د کوم سند او مدرک وړاندي کول، گټور او په زړه پوري کار دئ . ما د اخور( آبخور/آخور) عامه او مروجه مانا( د بودگانو د خوړو ځای) اروېدلي ده؛ خو د هغه نوري ماناوي ( نصیب، برخه او روزي) سند ښکاره کول غواړي . قاموس لیکوونکی باید هیڅکله بې سنده کلیماتو ته له ځانه ماناوي ونه کاږي . البته، د ځینوگرانو او پیچلو ټکو د ډ ښې توضیح او تشریح دپاره د بېلابېلو مترادفاتو

راوړل یوه خبره ده؛ خود ببلو یا جلا ماناوو لیکل بله . باید کوښښ وسي، چي د ببلو یا جلا ماناوو د ښي پېژندني دپاره د هغو د استعمال ساحه او ځای هم په ګوته سي؛ مثلاً د« استقراء » اختصاصي مانا ته په مخففو یا اختصاري تورو ولیکل سي « منط»، چي په واقعیت کي د« منطق »لنډه یا مخففه نخښه ده . همدغه راز یې د یوې فرضیې په راوړلو سره د استعمال مورد هم وښوول سي .

- مجازي ماناوي دي همېشه تر حقیقي ماناوو وروسته را وړلې سي؛ مثلاً صنم، چي په حقیقي مانا « بت » ته ویل کېږي؛ او په مجازي مانا معشوق، یار، نګار او داسي نورو ته یا په مخکني مثال کي که چیري د « آخور/ اخور» ټولو ماناوو ته سند پیدا سي، بیانو د بودګانو د خوړو ځای د هغه حقیقي مانا ګڼله کېږي، چي د هغه تر مجازي ماناوو( نصیب، برخه، روزي) باید دمخه ولیکله سي .

- د « آبدستان »کلیمه و « افتابه » ارجاع سوې ده . ماناوي یې کوزه، ګډوه، بدنی، لوټکه[ لوټَه] ښوول سوي دي . دا چي ایرانیانو « افتاوې » یا ګډوې ته « آبدستان » وضعه کړې دئ، ددوی خپله خوښه؛ خو د یوه معاصر قاموس لیکوونکي په توګه باید دې خبري ته ډېر ملتفت اوسو، چي « کوزه »، « ګډوه »، « بدنی » او « لوټَه » ګرده جلا جلا شیان دي؛ د شکل، رنګ او ظرفیت له پلوه مځکه او اسمان فرق لري . په بله ژبه « کوزه »، « بدنی » او « لوټَه » هیڅکله د« ګډوې » مترادف ټکي نه دي . د دې دلیل له مخي باید د « آبدستان »یا « افتاوې » په ماناووکي د دغه راز متقاربو ټکو له یادوني ډډه وسي؛ ځکه لوستونکو ته د « آبدستان » یا « افتاوې » په سمه او دقیقه پېژندنه کښې ناسم ذهنیت ورکیږي . قاموس لیکوونکی باید هیڅکله د « سپېرکی » د توضیح دپاره « خواږه ولني » ونه لیکي؛ ځکه « سپېرکی » جلا شی دئ؛ او« خواږه ولني » جلا. په داسي مواردو کي که د نورو ژبو له مترادفو ټکو، په تېره بیا لاتیني ټکو څخه استفاده وسي، د پام وړ شي په پېژندنه کي ډېر کومک کیږي؛ مثلاً که « سپېرکی » ته د پارسي ژبې « جوانی » یا د اردو ژبې « اجوائن/ اجوان » وکښل سي، د دې خوا او آ خو پښتانه یې په ډېري اسانی پېژني . په انګرېزي کي هم پر (Carom seeds) سربېره د "Ajowan/Ajwain"په نامه اسانه پېژندل کېږي .

- که قاموسي سرټکي د رسمي، شفاهي، لرغوني، ادبي، عامیانه او داسي نورو ډولو له اړخه هم وښوول سي، په پېژندنه کي بې له لوستونکو سره ډېره مرسته وسي؛ لکه « منګس »، « منګر »،« کانیاب »، « اومبارک » او داسي نور، چي ګرده عامیانه تلفظونه دي یا « اوېجه »،« ورشو »،« اوجاړ »، « یرغال »، « اشلوک »، « لرمل »، « ترمل » ، « برمل » او داسي نور، چي ټول لرغوني ټکي دي یا «ګوشنه »، «شیشته » او داسي نور، چي د پارسي ژبې شفاهي یا ګفتاري ټکي دي؛ خو په رسمي او ادبي متنو کي د « ګرسنه » او « نشسته » په بڼه کارېږي .

- په ( ۲۲۷) مخ کي « تابان » ته پراخي او روښانه ماناوي لیکلي سوي دي : ځلېدونکی، ځلاوو، برېښندوک، ببېښندوکی، ځلاند. ما ځلاوو چیري نه دئ اروېدلئ . که یې په کومه لهجه کي د استعمال ملاتړ او سند راوړل سي ډېر به ښه یي، که نه نو حذف دي سي . په ( ۴۸۰ )مخ کي « ساده » کلیمه په ډېر ښه ډول مانا سوې ده . که د نورو ټکو په مانا کولو او تشریح کولو کښې هم دغه لار پر مخ واخیستل سي، د قاموس ارزښت او وزن به لا زیات کي .

- په ( ۲۲۷) مخ کي « تابع اولیه » ته کښل سوي دي : لومړنی تابع، انتګرال . دا حقوقي اصطلاح یو څه توضیح او تشریح غواړي . نه په لومړني تابع څوک پوهېږي او نه په انتګرال . تر هغه ځایه، چي زه پوهېږم،

اینټیګرل (integral)، چي ایرانیان یي د فرانسوي ژبي د انتیګرال (intégrale ) په بڼه وایي؛ او پر ژبه او ادب سربېره په ریاضي کي هم پراخ استعمال لري، زیاتره په دوو ماناوو کارېږي :

۱ - ضروري، ابتدایي( لومړنی)، نه بېلېدونکی( نه تقسیمېدونکی)، متشکله ( د جوړښت برخه) او داسي نور.

۲- مُکَمَّل، ټول، بشپړ، ناوېشلئ .

په « تابع اولیه » کي اوله مانا مراد ده . زما په نظر باید د قاموسي سرټکوپه ماناووکي له اینټیګرل/ انتیګرال غوندي ټکو څخه په کلکه پرهېز وسي؛ ځکه داسي پېچلي، نااشنا او ذومعانین کلیمات له لوستونکو څخه لار او ګودر ورکيي؛ ځکه اینټیګرل کلیمه لوستونکو ته تر « تابع اولیه » هم ډېره ګرانه او پېچلي ده . په داسي مواردو کي ښه لار دا ده، چي موضوع په ساده او اسانه ټکو، تشریح او روښانه سي . سربېره پردې، قاموس لیکوونکی باید د قاموس لیکني د لوی او ارزښتناک اصل په توګه د غیرضروري لغتو، ترکیبو او اصطلاحاتو له ثبتولو څخه تر وسه وسه ډډه وکي . باید هڅه او کوښښ وسي، په قاموسو کي هغه څه را ټول سي، چي خلګ هره ورځ په کور، کار، تعلیم او تحصیل کي ور سره مخامخ یي . غیرضروري او غیرمستعمل ادبي، سیاسي، دیني، فلسفي او تخنیکي لغتونه او اصطلاحات یا ډېر بي ارزښته تاریخي او جغرافیایي نومونه له یوې خوا د قاموسو فزیکي حجم زیاتیي، چي په وړلو راوړلو کي پېچومي پېښیي؛ او له بلي خوا یي بیه زیاتیي، چي رانیول یي د زیاترو خلګو تر مالي توان لوړېږي . دا دواړه اړخونه قاموس لیکوونکي ته د خطر زنګونه دي . په ایران کي د علامه علي اکبر دهخدا« لغتنامه » له خپل ټول علمي او تحقیقي ارزښت سره سره د حسن عمید او ډاکټر محمد معین له فارسي فرهنګو سره سیالي نسي کولای؛ ځکه په دې فرهنګو کي د ټولني د منځنی سویې خلګو ټول ضرورتونه په پام کي نیول سوي دي . زما په ګومان« تابع اولیه » ترکیب هم ددغه راز غیرضروري او غیر مستعمل اصطلاحاتو له ډلي څخه دئ . د دوو ژبیزو قاموسو لیکوونکی باید په خپل قاموس کي د اصلي ژبي (source language) پر ځای د دوهمي ژبي (target language) د ویوونکو اړتیاوو ته پوره پام وکي؛ ځکه قاموس تر ډېره حده د دوهمي ژبي د ویوونکو د اړتیاوو پر بنسټ لیکل کیږي . دا حتمي او ضروري نه ده، هغه څه ته چي ایرانی لوستونکی اړتیا لري، باید هرومرو افغان لوستونکی هم اړتیا ولري . د هري ټولني د خلګو اړتیاوي د ژبي، ادب، مادي او مانوي کلتور، دین، مذهب، تاریخ، جغرافیایي موقعیت، اقلیم، سیاسي او اقتصادي نظام او داسي نورو ځانګړتیاوو له مخي یو له بله جلاوالی او توپیر لري . په دې دلیل نو که د قاموسي سرټکو په راټولولو کي له انتخابي او التقاطي لاري څخه کار واخیستل سي، لوستونکو ته بې( به یي) ګټه ډېره یي .

- په ( ۲۳۰) مخ کي « تاراجګر » کلیمه دوه واره ثبت سوې ده . په لومړي ثبت کي د « ناتارګر»، « ناورینګر» او « ګرګر» ماناوي د تأمل وړ دي . تاراجګر( تاراج + ګر) کلیمه، څرنګه چي له نامه یي ښکاري د تاراج، غارت، یغما، چور، چپاو( چپاول)، لوټماری، تاړاک، یرغل او تالان په مانا ده . « ناتار» د ظلم، قتل و قتال، زیاتي، بلوا، وحشت و دهشت او داسي نورو په مانا له « تاراج » سره ډېر اړخ لګیي؛ په داسي حال کي، چي په کندهار کي د یو ډول خوړو مانا هم لري؛ خو ناورین زیاتره د ویر، غم، ماتم، فاجعي، مصیبت او داسي نورو په مانا کارېږي، چي له « تاراج » سره په مانا کي نیژدې والی نه لري . « ګرګر» کلیمه هم زیاتره د ظالم، ستمګر، ستمکار، مستبد او داسي نورو په مانا راغلي ده . نتیجه دا چي په پښتو کي د پاړسي « تاراجګر » دپاره د « ناتارګر»، « ناورینګر» او « ګرګر» پر ځای د « لوټمار»، « یرغلګر »او « تاړاکګر » اشنا او مستعملي کلیمي کارولای سو . د « سالار» دپاره هم د « سرکښ » مانا سمه نه ده؛ ځکه سرکښ یاغي، باغي، عاصي ، سرغړاند، سرغړونکی، نافرمان ته وایي . بنایي مقصد « مخکښ » یي؛ خو د چاپي تېروتني له اسیته « سرکښ

» راغلئ يي . سالار، مشر، سردار، د قوم مشر، د خلکو مشر ته وايي؛ لکه سپاه سالار، چې د لښکر مشر دئ .
د « سازنده » د پاره هم « رغاونيزه » کليمه د شکل او مانا له نظره سمه نه برېښي . په پارسي کي د« سازنده »
په نامه دوې همږغه مشابه کليمې(homophone) لرو:

۱- سازنده : جوړونکی، رغوونکی، رغندوی، صانع، صنعتګر، جاعل او داسي نور .

۲- سازنده : ساز ږغونکی، هونرمند، شوقي او داسي نور. « سمون » او« سازښت » هم د « سازګار» دپاره سمي او دقيقي کليمي نه دي . د « سازګار » دقيقه مانا وړ، برابر، جوړ، موافق، مطابق او داسي نور دي . « ناسازګار» ياني نابرابر، ناوړه، ناموافق، مخالف او داسي نور.

- په ( ۲۳۱) مخ کي دي « زغلېدونکی » د « ځغلېدونکی » په بڼه وکښل سي . که دا ډول تلفظ او املا و منو، بيا نو ځنګل، ځان، ځورول او داسي نور ټکي هم بايد د « زنګل »، « زان »، « زورول » او داسي نورو په بڼه وکاږو. سربېره پر دې، په ټول قاموس کي دي هيڅکله د پښتو اصيل توري لکه « ښ »، « ځ »،« ږ »، « ړ »، « ښ » په « س »، « ز »، « ګ » او « خ » نه اړول کيږي؛ مثلاً د ژبي معياري املا بايد هرومرو« ژبه » وکښل سي . که د لهجه يي وريانټو د ښوولو دپاره په پای کي « زبه » او « جبه » هم وليکل سي، بده خبره نه ده . په منل سوو املاوکي د معياري ليکدود لومړيتوب او په غيرمعياري املاوو کي د بېلابېلو لهجه يي املاوو ثبتول، ډېر ضروري کار دئ . د پښتون، پښتونخوا، کښېنستل، کښېښوول/ کښېښودل، ښکنځل، ژلۍ/ ږلۍ اصلي او سهي املاوي دادي؛ ځکه په دې املايي بڼو کي د پښتو اصيل او لرغوني ږغونه خوندي دي . پختون، پختونخواه، کيناستل، کېښوول/ کېښودل، کنځل، زلۍ/ جلۍ او داسي نور سهي نه دي .

- په ( ۴۸۱) مخ کي « سازمان عفو بين المللی » ته « د نړيوالي ښښني سازمان » ليکل سوئ دئ . په دې عبارت کي دوې خبري د تأمل وړ دي :

۱- بين المللي کليمه له لغوي پلوه د نړی وال معادل نه ده . بين المللي کليمه پر هر هغه څه دلالت کيي، چي د څو ملتو يا څو هېوادو په منځ کيي؛ مثلاً "Arab League" يو بين المللي سازمان دئ؛ ځکه بېلابېل ملتونه يا هيوادونه غړيتوب پکښي لري؛ مګر سره له دې هم يو نړی وال سازمان نه دئ . په دې خاطر نړی وال سازمان نه دئ، چي نه د نړۍ ټول يا زياتره هيوادونه غړيتوب پکښي لري؛ او نه تر عربي هيوادو آ خوا په نورو خبرو او مسألو غرض لري .که په يوه سازمان کي ګرسره دوه يا درې ملتونه را غونډ سوي يي، بيا هم له لغوي پلوه هغه ته د « بين المللي » صفت ورکول بې ځايه خبره نه ده؛ ځکه « بين المللي » ياني د ملتو/ هيوادو تر منځ، چي په انګرېزي کي اينترنشنل(international) بولي؛ حال داچي د نړی وال دپاره زياتره يونيورسل (universal) ، (global) او (worldwide)کليمي استعماليږي . که د ملګرو ملتو سازمان ته نړی وال سازمان وويل سي، دا په هر مانا دقيقه خبره ده؛ په دې چي د نړۍ ټول هيوادونه، ملتونه او سازمانونه يي غړيتوب لري؛ او د نړی والي سولي، امنيت او همکاری تأمين دپاره جوړ سوئ دئ . شک نسته، چي د ملګرو ملتو سازمان په عين حال کي يو بين المللي سازمان هم ګڼلای سو؛ ځکه د بېلابېلو ملتو تر منځ روابط تنظميي . که چيري موږ د انګرېزي ژبي و « اينټرنشنل » او « يونيورسل » دواړو ته يوازي د « نړی وال » ټکی غوره کو، په دې کار سره مو په حقيقت کي د پښتو له لغوي زېرمي سره لو جفا کړي ده . په پارسي کي هم د دې دوو بېلو مفاهيمو دپاره د « بين المللی » او « جهانی » اصطلاحوي کاريږي؛ په اوردو او په عربي کي هم د دې مفاهيمو دپاره د « دولي »، « بين الاقوامي » او « عالمي » ټکي کاريږي . لکه څنګه چي د « آبدستان » او « افتاوې » په اړه يادونه وسوه، بېل شيان او بېل مفاهيم بايد هيڅکله دسوچه تابه په سَوَب ګډوډ نسي .که د ژبي د سوچه تابه پر خره سپاره کسان په

شعوري یا غیرشعوري ډول د ژبي لغوي زېرمه محدودیي، دا د هغوی روحي ناجوړي ده؛ مګر قاموس لیکوونکی باید دي باریکییو او ظرافتو ته ژور پام وکي؛ اوپرې نږدي، چي د سوچه پالني له شامته د ژبي ولغوي زېرمي ته زیان واوړیي .

۲- بخښنه باید د « ښښنه » په بڼه و نه کښل سي . د دې ټکي اصلي او سهي املا« بخښنه » ده، نه « ښښنه » . که تر « بخښنه » وروسته « ښښنه » هم ولیکل سي، بده خبره نه ده؛ ځکه « ښښنه » د پښتو د مرکزي او ختیځي لهجي وینګ ښیي .

- په ( ۷۳۵) مخ کي « ماترک » اصطلاح راغلي ده؛ او دغه ماناوي ورته کښل سوي دي : حال، شته، رتبه، دولت، ملکیت . تاسي ته مالومه ده، چي « ما+ ترک » یوه عربي ترکیبي کلیمه ده . ما( هغه څه) او تَرَکَ ( پرَیَښئ، تر ک کړئ، پاته). دواړي کلیمي په ګډه ( ماترک) یا ني هغه څه چي پاته دي یا هغه څه چي په میراث پرَیَښي دي . په عربي کي کله کله د دې مفهوم دپاره د « متروک » ټکی هم استعمالیږي ( وګورئ : Wehr 94.) . دا د اسلامي حقوقو، په تېره بیا میراث د حقوقو اصطلاح ده . په پاړسي کي د « ماترَک » پر ځای د « ماترکْ» په بڼه وایي( وګورئ : عمید ۳: ۲۱۳۳) . پښتانه، په تېره بیا کنداریان یي « تَرَکه » بولي، چي په واقعیت کي د عربي « ترکة » مغفنه بڼه ده؛ او د همدې میراث یا ماترک په مانا ده . د ښاغلي یوسفزي په ثبت سوو ماناووکي ماته « حال » او « رتبه » ګرسره نااشنا ښکاري؛ په داسي حال کي چي« شته »، « دولت » او« ملکیت » درې واړه له « ترکي » یا « ماترک » سره اړخ لګیي . سره له دې هم هر ډول شته ، دولت او ملکیت «ترکه » یا «ماترک »نسو بللای . « ترکه » یا « ماترک » یوازې د مړي مال و منال ته ویل کیږي، چي وارثانو ته په میراث پاته سوئ یي .

- په (۵۱۴) مخ کي د « سودا » یوه مانا ثبت سوې ده؛ خو په پښتو کي بله مانا نه ده راوړل سوې . د « سودا » عامه مانا هره ورځ پورته او کښته کیږي؛ ټول یي پېژنو؛ خو دوهمه مانا یي په خاصو حالاتو کي استعمالیږي . له دې کبله ښایي ځینو کسانو ته یو څه نا اشنا و برېښي . د « سودا » دوهمه مانا اندېښنه، اضطراب، پرېشاني، وسواس، مالیخولیااو روحي ناارامي ده، چي په پښتو محاورو او ادب کي پر خپل ځای ډېره استعمالیږي؛ مثلاً خلګ وایي : « پلانی سوادیي سوئ دئ . » یا « پلاني ته سودا ور لوېدلې ده .» « سامان » هم له دې ډلي څخه ده، چي په پاړسي کي پر لوازمو، اسبابو او وسایلو سربېره د نظم او ترتیب، اندازې او نښاني په مانا هم کاریږي . داسي ډېري کلیمي سته، چي باید د یوې ماناپه لیکلو یي اکتفا و نسي .

- کازمیټک (cosmetic) یا کسمیټک(cosmetique) یوازي د ښونډو سرو کولو موادو ته نه وایي . کازمیټیکس د اسم (noun)په بڼه هر هغه پوډر، کریم، لوشن او نورو کیمیاوي موادو ته ویل کیږي، چي د وجود، په تېره بیا مخ او وېښتانو د ښکلا دپاره استعمالیږي . کازمیټیک د صفت (adjective) په حیث عمدتاً درې بېلي ماناوي لري :

۱ - زینتي، تزییني، ښکلوونکی .

۲- بېکاره، ناکاره ( هغه څه چي هیڅ کار نسي کولای یا په هیڅ درد نه خوري) .

۳- سطحي، سرسري، جزیي، غیرضروري .

ددغو ماناوو له یادوني څخه مي مقصد دا دئ، چي کازمیټک بېلابېلي ماناوي لري؛ او هره مانا یي ځانته ځای او محل لري .که په قاموس کي د یوه سرټکي ټولي ماناوي نه یي وړاندي سوي یا هره مانا په سم ډول نه یي بیان سوې، بیا نو لوستونکی هغه ته د یوه معتبر او باوري ماخذ په سترګه نه ګوري . د همدې دلیل له مخي باید تر

وسه وسه کوښښ وسي، چي د هر سرټكي تولي ماناوي ثبت سي؛ او لوستونكى د خپل پام وړ مانا د موندولو دپاره د بل فرهنگ وكتلوته محتاج نسي .

د نوي مېتودولوژۍ په رڼا کي د قاموس ليکني اصول او قواعد د دې لندو خبرو او مشورو په ويلو سره نه ختميږي ( ځوان او هڅاند قاموس ليکونکي کولاى سي په دې برخه کي د زياتو جزيياتو او مالوماتو دپاره د دې عاجز« د نوي قاموس ليكني مېتودولوژۍ ته يوه كتنه » اثر وگوري) سره له دې هم هر نوي فكر او نوښت ته عملي جامه ور اغوستل هم ځان ته شرايط او امكانات غواړي . له افغان قاموس ليكوونكي څخه بايد په يوه وار هيڅكله د داسي قاموس ليكلو يا تأليف تمه و نسي، چي اروپايي قاموس ليكوونكو د نوو تيوريكو ارزښتو، علمي او تحقيقي امكاناتو او بالاخره څو سوه كلنو عملي تجربو پر بنسټ تأليف كړي دي . فرهنگ ليكنه پرمختيايي او بشپړتيايي بهير دئ . له انساني پرمختگو، په تېره بيا ژبنيو، علمي، فكري او فرهنگي پرمختگو سره گام په گام پر مخ درومي . د همدې استدلال له مخي بايد تل له شرايطو او امكاناتو سره سم د هغو و بشپړتيا او پياوړتيا ته پام وسي .

ښاغلى يوسفزى بايد نوي قاموس ليكني ته د خپلي همېشنى ادبي- فرهنگي كار او مشغولتيا په سترگه وگوري؛ او په دې برخه كي د خپلي پوهي، تجربي، پرله پسي او نه ستړي كېدونكي زيار په مرسته د اوسني پاړسي- پښتو قاموس د بشپړولو او غني كولو تر څنگ د پښتو - پاړسي فرهنگ و ليكلو ته هم اوږه وركي . ښاغلي يوسفزي ته د قاموس ليكني په ارزښتناك علمي - تحقيقي كار كي د لا زياتو پرمختگو او برياوو هيله كوم .

هارون خپل شعشعي

لندن

د۲۰۱۲ع كال د فبرورۍ لسمه .

## ماخذونه


افغانى نويس، عبدالله . لغات عاميانهٔ فارسي افغانستان.کابل : رياست مستقل مطبوعات، ۱۳۴۰.

امرخېل، ځېرنوال عزيزالله، او نور. د پښتو - پښتو تشريحي قاموس.۴ټ . د ميډيوتيک مرکز اوډنه او چاپ.کابل: د افغانستان د علومو اکاډيمی د ژبو او ادبياتو مرکز، ۱۳۸۳.

بدخشى، شاه عبدالله . د افغانستان د ځينو ژبو او لهجو قاموس.۲ټ .کابل : پښتو ټولنه،۱۳۳۹.

بړيڅ، محبت خان، نواب. رياض المحبت. **B.M. Or4490 - Foll.724** . بريتيش كتابتون .لندن .( خطي نسخه).

په بريتيش كتابتون كي د « رياض المحبت » د نورو خطي نسخو نومري دادي :

**I.O.MSS.P.2868-Foll.462**

**I.O.MSS.P.2869-Foll.447**

په هند كي د « رياض المحبت » دخطي نسخو د موندني جزييات دا دي :

- كلكته، د بنگال داشياتيک سوسايتى كتابخانه، اوردو سوسايتي كلكشن، نومره : (۱۴۷)

- كلكته، نشنل لايبرري، نومره : **Pr. III- B-20**

- رضا لايبرري، رامپور( پارسي كلكشن)، نومره : ( ۲۵۵۳). ( د زيات تفصيل دپاره وگورئ : هيوادمل ۱۷۸، ۱۷۹، ۱۸۰، ۱۸۳) .

. بريتيش كتابتون .لندن .(خطي نسخه) **B.M.Or4491-Foll.223.** بړيڅ، نواب الله يار خان . عجايب اللغات.

په بريتيش كتابتون كي د « عجايت اللغات » د نورو خطي نسخو نومري دادي :

**B.M.Or.399-Foll.274**

**I.O.MSS.P.4511-Foll.166**

په هند کي د « عجايب اللغات » دخطي نسخي د موندني جزييات داسي دي :

رضا لايبرري، رامپور( پارسي کلکشن)، نومره :( ۲۵۵۴).

حبيبي، عبدالحی . لوی احمدشاه بابا. کابل : پښتو ټولنه، ۱۳۱۹.

عميد، حسن .فرهنگ عميد.۳ج.، چاپ دوم،تهران : امير کبير، ۱۳۶۵.

کاکړ، لعل محمد او عبدالحی حبيبي . سپيڅلي پښتو.کندهار: طلوع افغان، ۱۳۱۸.

مومند، محمد گل خان، وزير. پښتو سيند.۲ټ،کابل : عمومي چاپخانه،۱۳۱۶.

هيوادمل، زلمی . د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخي يا د هند د کتابخانو د پښتو خطي نسخو فهرست .کابل : پښتو ټولنه، د ژبو او ادبياتو مرکز ، د افغانستان د علومو اکاډيمي،۱۳۶۳ .

Aryanpur, Abbas & M. Aryanpur. The English-Persian Collegiate Dictionary. 2 Vols. Tehran: Amir Kabir Publication Organization, 1992.

Thomson, Della. The Oxford Dictionary of Current English. 9 th ed. Oxford: Clarendon Press, 1995.

Wehr, Hans. A Dictionary of Modern Written Arabic. Ed. by J. Milton Cowman, 3rd. ed. Beirut: Librairi du Liban, 1980.

ويبپاڼي :

په اميريکن هيريټيج او کالينز ډيکشينريوکي د « استقراء » او « قياس » آن لاين تعريفونه دلته کتلای سئ :

http://www.thefreedictionary.com/deduction

http://www.thefreedictionary.com/induction

سلجوقی، فقيد صلاح الدين . « فلسفهٔ سيد جمال الدين افغانی . » سيد جمال الدين افغان. بخش چهاردهم . تلخيص، تصحيح و دوباره نويسی از ولی احمد نوری . افغان - جرمن آن لاين. ۲۶ / ۰۱ / ۲۰۱۲

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/walinouri_said_jamaluddin_afghan_14.pdf